سلام خان

۲۰۱۲/۰۱/۱۷

# ځینی کړی او اشخاص غواړی
## چې د سولی روانی هځی سبوتاژ کړی

شاوخوا یوه میاشت کیږي چی په قطر کی طالبانو ته د یوه دفتر د پرانستلو خبری تودی شوي اوطلبانو هم په دی اړه موافقه ښودلی ده، د خبرو، روغی جوړی او سولی د بهیر له ګړندی کیدو سره دخلګو هیلی دسولی سره نسبت بل هر وخت ته زیاتی شوی دی او دافغانستان په بیلابیلو ولایتونو کی د طالبانو د متوسطو قومندانانو یوه لویه برخه د افغانستان د دولت چارواکو او امنیتي مسوولینو ته مراجعه کوي او د سولی او روغی جوړی له بهیر سره هره ورځ یو ځای کیږي، د افغانستان د استخباراتو او یا د ملي ملي امنیت عمومي ریاست دراپورونو پربنیاد، له طالبانو سره د خبرو تودیدل د دی سبب شوی، چی د دی ډلی د منځنی کچی یو شمیر قومندانان د سولی له پروسی سره یو ځای کیدو ته زړه ښه کړی په دی هکله دافغانستان، د ملي امنیت د عمومي ریاست ویاند لطف الله مشعل د تیری دوشنبی په ورځ په کابل کی په یوه خبري کنفرانس کی وویل؛ چی په تیری یوی میاشت کی په بیلابیلو ولایتونو کی د وسله والو مخالفینو اته ډلی چی تعداد یی نژدی سل تنه کیږی په قندهار، هرات، لغمان، بادغیس، او کنړ ولایتونو کی له خپلو قومندانانو سره له دولت سره یو ځای شوي دی، خو طالبانو تر دی مخکی د ملي امنیت د اداری هغه راپور رد کړی و، چی ګنی د دی بهیر له پیلیدو سره یو شمیر طالبانو له جګړی لاس اخیستی دی، دوی په خپلی یوی مطبوعاتي اعلامیی کی دا د ملي امنیت د اداری تش تبلیغات بللي وو او د مذاکراتو ترڅنګ یی د جګړی په دوام هم ټینګار کړی و، دغه راز وسلوالو طالبانو هغه خبره رد کړه، چی ګوندی د دوی مشر ملا عمر د یوه فرمان په وسیله له خپلو وسلوالو غوښتي، چی د سولی د روانو خبرو اترو تر پایلو پوری دی جنګ بند کړي، د وسلوالو طالبانو د مشر ملا محمد عمر دغه فرمان په یوه اخباري کاغذ په پښتو ژبه لیکل شوی او د جدی په ۲۶مه، له غرمی وروسته په کابل کی د ځینو رسنیو دفترونو ته ورکړل شوی دی، په دی فرمان کی د ملا عمر له خوا د اوربند کولو او د مذاکراتو لپاره د ځانګړو کسانو د ټاکلو په اړه خبری شوی دي..

خوبیاهم د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد، دغه فرمان او راپورونه په کلکه رد کړي او خپور شوی فرمان یی جعلي بللی دی، د طالبانو د مشر ملا عمر یاد شوي فرمان پاڼه کی راغلي دي: ((په افغانستان کی د اوسني وضعیت په پام کی نیولو سره او په نړیواله کچه د اسلامي تحریک د موقف د لاپیاوړتیا په خاطر اوس په کار دي، چی د تیری لس کلنی دوری، تیروتنی او اشتباهات په پام کی ونیسو او له دغی وضعی څخه د اسلامي تحریک د موقف د لاټینګښت په خاطر پوره پوره ګټه واخلو)) په دی فرمان پاڼه کی امریکا سره د طالبانو د خبرو اترو او د قطر د دفتر په اړه مثبتی څرګندونی شوی او د ملا عمر له خولی لیکل شوي دي: ((زه به هیڅکله داسی تاریخ پرینږدم، چی زما مشرتوب او اسلامي تحریک ته څوک ګوته ونیسي، دا چی نن امریکا موږ سره مذاکری ته چمتو شوی، دا زموږ بریا او د تحریک لوړ موقف بیانوي)) په دی فرمان کی ملا عمر ویلي، چی امریکا سره مذاکری لپاره دوی څو ځانګړي کسان ګومارلي، له دوی پرته بل څوک د تحریک استازیتوب نه شي کولی؛ خو په دی فرمان کی دغه کسان نه دي په ګوته شوي، دغه راز په دی فرمان کی ملا عمر ټولو طالبانو ته سپارښتنه کړی، چی د مذاکراتو د پایلی تر روښانه کیدو پوری دی په خپلو عملیاتو کی نرمي راولي او د ولسي خلکو په منځ کی له عملیاتو کولو ډډه وکړي، د فرمان په دریيمه ماده کی راغلي دي: ((زموږ مرام له افغانستان څخه د بهرنیانو وتل او د یوه اسلامي نظام رامنځ ته کیدل دي، که زموږ ټولی غوښتنی ومنل شي، نو مذاکرات، دی مرام ته د رسیدو یوه لاره ګڼو او په دی لاره کی خنډ پیدا کوونکي زموږ دوستان نه شي کیدای)).

د دی فرمان په پای کی د ملا محمد عمر نوم او د دوی ټاپه لګیدلی او د روان هجري کال د صفر المظفر لومړی نیټه، چی د مرغومي له شپږمی سره سمون لري، لیکل شوی ده، د دی فرمان له ویشل کیدو څو دقیقی وروسته، د وسله والو طالبانو د یوه ویندوی ذبیح الله مجاهد له خوا رسنیو ته د بریښنالیک له لاری دا فرمان رد کړی شو.

مجاهد په دی بریښنالیک کی لیکلي دي: ((د افغانستان اسلامي امارت په عنوان یوه جعلي اعلامیه په یوه کاغذي پاکټ کی د ځینو رسنیو دفترونو ته ورو‌ړل شوی ده، چی د ځینو نویو مسایلو په اړه په کی څرګندونی شوی دي او دا هم په کی ویلی شوي، چی طالبان باید خپل بریدونه کم کړي)) د سیاسي چارو شنونکی بیا وایي، چی دا کار په سیمه کی د کورنیو او بهرنیو استخباراتي کړیو له خوا شوی دی، چی له دا ډول کارونو څخه هدف دادی، چی استخباراتي کړی غواړي د طالبانو په منځ کی بی باوري پیدا کړي او غواړي دی کار سره طالبان کمزوري کړي، اوغواړی چی د امریکا او طالبانو ترمنځ روانی خبری اتری سبوتاژ او د دوی ترمنځ بی باوري رامنځ ته کړی. دیوه تازه را پور له مخی،


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

طالبانو د فدرالي نظام په اړه په برلین کی جوړه شوی غونډه دیوی ځانګړی اعلامیی په طرځ کی په کلکه غندلی او دا یی د هیواد د تجزیی یوه هڅۀ بللی ده. د طالبانو له لوري په یوه خپره شوی خبرپاڼه کی ویل شوي، چی په برلین کی جوړه شوی غونډه د امریکایانو له لوري تمویل شوی اورابلل شوی وه او امریکا غواړي په افغانستان کی د یو شمیر جنګسالارانو په واسطه فدرالي نظام رامنځته کړي، د طالبانو په خبرپاڼه کی ویل شوي، دوی د افغانستان پر ملي یوالي د ټینګار په ترڅ کی هر هغه چا ته د دوښمن په سترګه ګوري، چی د فدرالي نظام له لاری د هیواد د ویش هڅه کوي، طالبانو د جرمني له حکومت څخه غوښتنه کړی چی په افغانستان کی د جګړی د تودولو او د دوی په وینا د نوو غمیزو په رامنځته کولو کی د سازش برخه و نه ګرځي.
د افغانستان د اسلامي حزب د ګوند مشر ګلبدین حکمتیار، دتیری یکشنبی په ورځ له افغان اسلامي آژانس سره په یوه مرکه کي ویلي دي چي هغه په افغانستان کي د جګړی د پای ته رسیدلو له پاره د سولي خبرو ته چمتو دئ، هغه ویلي دي چي د هغه حزب لا پخوا د کابل او واشنګټن له دولتونو سره خبري کړي دي. حکمتیارداهم ویلي دي چي په افغانستان د سولي پرسر هره موافقه باید له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو وتل او د دغه هیواد خپلواکي تضمین کړي، حکمتیار په داسي حال کي سولي ته خپل چمتوالی اعلانوي چي په روانه میاشت کي طالبانو په ناڅاپي ډول اعلان وکړ چي له امریکا سره په قطر کي د یوه سیاسي دفتر د پرنیستلو په اړه لومړنی موافقی ته رسیدلي دي.

پای

2012/01/17


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ